د مخامخ ژباړې خدمتونه

کله چې تاسو د ماشوم په ښوونځي کې لیدنه ولرئ یا د ACPS په فعالیت کې ګډون کوئ، شفاهي ژباړونکي د ACPS کورنیو سره د مرستې لپاره موجود دي.

ددې خدمت غوښتنې لپاره مهرباني وکړئ د ماشوم ښوونځي ته د ژباړونکي حاضرولو لپاره 5 ورځې یا له هغې وړاندې خبر ورکړئ.

ژباړونکي په مختلفو غونډو لکه د والدینو او ښوونکو کنفرانسونو، د ماشومانو د مطالعې غونډو، د ځانګړې زده کړې د وړتیا غونډو، او د IEP غونډو ته رابلل کیږي. ژباړونکي د ښوونځي په بیلابیلو فعالیتونو لکه بیرته ښوونځي ته د راتګ شپې، د PTA غونډو، ورکشاپونو او نورو غونډو کې هم مرسته کولی شي!

د لیکلې ژباړې خدمتونه

ACPS د ښوونځي او والدینو تر منځ په اړیکو کې د مرستې لپاره د سیمې په کچه د اسنادو ژباړه کوي. په دې اسنادو کې لاندې اسناد شامل مګر پدې اسنادو پورې محدود نه دي: د سیمې او د ښوونځیو پالیسۍ، بیرنۍ معلومات، د ثبت او د نوم لیکنې فورمې، د روغتیا او خوندیتوب معلومات، د زده کونکو د اجازې فورمه، انضباطي لیکونه، د والدین کتابونه او حقیقت پاڼې فکټ شیټونه، اکاډمیک انتخابونه او پلان جوړونه، فعالیتونو ته د لاسرسي یا د ګډ نصاب فعالیتونو په اړه معلومات، د راپور کارتونه، او د پروګرام ځانګړې معلومات.

مهرباني وکړئ د داسې سند په اړه د ښوونځي کارکونکو ته خبر ورکړئ چې تاسې وړاندې پوهیدلو ته اړتیا لرئ.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره

له موږ سره اړیکه ونیسئ:

د EL خدمتونو دفتر
د شفاهي او کتبي ژباړې خدمتونه

د ACPS مرکزي دفتر
1340 Braddock Place
703-619-8347
www.acps.k12.va.us/translation

د مخامخ ژباړې مرکز

د ACPS مرکزي دفتر
1340 Braddock Place
703-619-8055
www.acps.k12.va.us/face

پوښتنه یا اندیښنه لرئ؟
مرستې ته اړتیا لرئ؟

که چیرې کومه پوښتنه لرئ یا د شفاهي یا کتبي ژباړونکي وړاندیز کول غواړئ، نو مهرباني وکړئ د مرستې لپاره د ACPS له یو تن کارکوونکي څخه غوښتنه وکړئ.

Alexandria City Public Schools

د شفاهي او کتبي ژباړې خدمتونه

د ACPS کورنیو
ته د لاسرسي وړ

د شفاهي او کتبي ژباړې خدمتونه

د شفاهي او کتبي ژباړې خدمتونو ته عمومي کتنه

د اسکندريه ښار عامه ښوونځيو کې له 50% څخه زيات زده کونکي په کور کې د انګريزي څخه پرته په نورو ژبه خبرې کوي. د ACPS زده کونکو ترمنځ تر ټولو زياتې په اسپانياوي، امهاريک او عربي ژبو خبرې کيږي.

د ښوونځيو، زده کونکو او کورنيو ترمنځ په اړيکو کې د مرستې لپاره، د ACPS ژبې د لاس رسی په خدمتونه کې لاندې خدمتونه شامل دي: د تليفون له لارې شفاهي ژباړه (د ژبې کړنې له لارې)، مخامخ شفاهي ژباړه، او د ليکلې ژباړې خدمتونه.

د ماشوم ښوونځي سره په منظمه توګه اړيکه نيول ستاسو د ماشوم زده کړې سره د مرستې يوه مهمه لار ده.

د لاسرسي خدمتونه

کله چې تاسو شفاهي يا کتبي ژباړې ته اړتيا ولرئ، د ACPS کارکوونکو ته ته په بيلابيلو لارو ويلی شئ:

- کله چې تاسو خپل ماشوم په ACPS کې ثبت کړ، مهرباني وکړئ اړوند (د ثبت اداري) کارکوونکي ته **د اړيکو اړوندې يا خوښې ژبې** په اړه وواياست.
- کله چې تاسو د ACPS په ښوونځي يا دفتر کې ياست، "د شفاهي ژباړې شته خدمتونو" پوستر وګورئ. بيا، خپلې ژبه ته اشاره وکړئ او د ACPS کارکوونکی به د تليفون له لارې له ژباړونکي سره اړيکه ونيسي.

- که په پوستر ستاسو ژبه نه وي، لطفا د "ژبې پيژندنې لارښود" غوښتنه وکړئ چې په کې د 100 څخه زياتې ژبې شته دي.

د ژبې کړنې له لارې د شفاهي ژباړې خدمتونه

د ژبې کړنه د تليفون له لارې داسې خدمتونه دي چې د ګټو ژبو کورنيو ته لار هواروي تر څو د خپل ماشوم ښوونځي سره په حساس کلتوري ډول په خپله مورنۍ ژبه خبرې وکړي.

د ژبې کړنې د کارونې له لارې، ستاسو د ماشوم ښوونځی کولای شي د تليفون له لارې ژباړونکي ته زنګ ووهي. د ښوونځي کارکوونکی به د ژبې کړنې شمېره ډايل کړي او د اړتيا وړ ژبې غوښتنه به وکړي. له هغې وروسته بايد تاسو معمولا 1-2 دقيقې انتظار وکړئ تر څو ژباړونکی ونښلول شي.